د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي- څېړنيزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د کتاب حقیقت، تاریخي مخینه او اهمیت یې

(د دیني او عربي کره منابعو په رڼا کې)

**پوهنوال دکتور محمد قسیم آخندزاده**

دیپارټمنت: عربي. پوهنځی: بهرنی ژبې او ادبیات، پوهنتون: کابل. هېواد: افغانستان
Emil: akhuondzada@gmail.com

**لنډیز**

دا لیکنه د دیني نصوصو او عربي ادبي متونو په رڼا کې د کتاب په حقیقت، تاریخي مخینه او ارزښت بحث کوي. موخه یې هغه ستونزو ته د پای ټکی اېښول دي چې په دې برخه کې لوستونکي ورسره مخ دي . همدې موخې ته د رسېدو لپاره د کتاب د لفظ د اصطلاحی معنا ترڅنګ د لفظ ژبنی معناوې څیړي. هغه مترادف مصطلحات ښیي چې په عربي ژبه کې له دغې مفهوم څخه د تعبیر په برخه کې کارول شوي دي، هغه ټکو ته هم څغلنده کتنه کوي؛ چې له امله یې کتاب ارزښت موندلی. مقاله موضوع د تاریخي، وصفی او تحلیلي کړنلارې په رڼا کې څیړي او معلومات د معتبرو عربي منابعو څخه راټولوی. په منځپانګه کې د راغلو معلوماتو د کروالي په برخه کې د (APA) له مېتود څخه کار اخلي او د پایلو تر ښوولو وروسته د منابعو د نوملړ په یادولو سره پای مومي.

آرویيونه: تقدیر؛ فرض؛ کتاب؛ ګنډل؛ لازم؛ معجزه؛ مکتوب

# The Reality, Historical Background, and Significance of the Book

(in Light of Religious and Literary Teachings)

**Muhammad Qaseem Akhundzada**

Department of Arabic, Faculty of foreign Languages and literature, Kabul University
Emil: akhuondzada@gmail.com

**Abstract**

This article provides an insightful exploration of the concept of the book, focusing on its essence, historical background, significance, and value through the lens of religious scriptures and classical Arabic literary texts. The study begins by examining the linguistic and terminological meanings of the term "book," highlighting its evolution and contextual usage across various historical periods in the Arabic language. It further discusses synonymous expressions that have been employed to describe this concept throughout different eras. The article then addresses the key factors and themes that contribute to the enduring importance of books in human civilization. Methodologically, the study draws upon authoritative Arabic sources, meticulously organizing the collected information and adhering to the APA citation style. The article concludes with key findings and is followed by a comprehensive list of references.

**Keywords:** Book; Scripture; Miracle; Binding; Obligation; Destiny

ارجاع: آخندزاده، م. ق. (۱۴۰۴). کتاب حقیقت، تاریخي مخینه ، او اهمیت یې. *ژورنال علمی- تحقیقی علوم اجتماعی- پوهنتون کابل* ۸(۲). ۸۹-۱۱۱. https://doi.org/10.62810/jss.v8i2.328

## مقدمه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام علی من لا نبي بعده، أمابعد! د بشریت په تاریخ کې د کتاب نقش ته په کتو چې د انسان د فکري، فرهنګي او ټولنیزې بشپړتیا په برخه کې یې په بېلابېلو پړاوونو کې د یوه خواږه ملګري، مخلص ګټور دوست په توګه لوبولی اولا هم لګیا دی لوبوي یې، بې ځای نه ده چې د دغه مصطلح په اړه د دیني او عربي ادبي نصوصو په رڼا کې یو څه ولیکل شي او د لوستونکو مخکې کېښودل شي، چې په خپل ژوند کې ترې ګټه واخلي.

زموږ په ټولنه کې هغه کسان څه لږ نه دي، چې د کتاب له لوستلو سره خورا مینه لري، ګټور یې بولي، هر وخت یې لولي، د ژوند د جوړولو په برخه کې ګټه ترې اخلي، خو د دغې اصطلاح د حقیقت پېژندنې، تاریخي مخینې په اړه هرومرو له دې امله له یو لړ ستونزو سره لاس او ګرېوان دي چې کتاب یوه عربي کلمه ده، وړاندې له دې چې اصطلاحي حیثیت غوره کړي هرومرو په عربي ژبه کې د یوه ژبني حقیقي مفهوم لپاره کارول شوې ده. د عربي ژبې معتبرو قاموسونو د څرګندونو له مخې ښکاري چې د دغه لفظ ژبنی مفهوم خورا ډېر پېچلی هم دی. نو دا مقاله به د دې لفظ همدا ژبنی پېچلی مفهوم را وسپړي، تر څنګ به یې هغه وجوهات او لاملونه په ګوته کړي، چې په مټ یې د همدې لفظ د اصطلاحی مفهوم اډانه ولاړه ده، تر څو دا ډول ستونزو ته لږ ترلږه په افغاني ټولنه کې د پای ټکی کېښوول شي او له مخې یې مینوال لوستونکي د کتاب په اړه په مفصله توګه هغه معلومات تر لاسه کړي چې کېدی شي لا تر اوسه د ډېرو لوستو کسانو تر غوږ نه وي رسېدلي، د عربي ادبي متونو په مټ به یې رېښیي معنا وپېژني ، د دیني نصوصو په رڼا کې به یې تاریخي مخینې ته لار ومومي.

د کتاب د اصطلاح غږ او زوږ په انساني ټولنه کې په تېره بیا زموږ په افغاني چاپېریال کې له پخوا را هېسې په پوره ځواک د خلکو تر غوږو رسېدلی دی، افغانان هم له دې نامه سره د نورو ژوندیو ملیتونه په څېر له پخوا را هیسې آشنایي لري، هېڅوک یې په ګټه او فایده کې شک نه لري، ټول په یوه خوله وایي چې کتاب د بشریت د تکامل لویه وسیله او تل پاته سرچینه ده، خو په افغاني ټولنه کې خپله د دغې اصطلاح په اړه –زما د معلوماتو سره سم- لا تر اوسه هېڅا هم په خپله ملي ژبه داسې ژوره څېړنه نه ده کړې چې د نوموړې کلمې ژبنی کره رېښیي ارزونه پکې شوې وي، اصطلاحي مدلول یې د ژبنی معنا په رڼا کې را بر سېره شوی وي، د دیني نصوصو په رڼا کې یې د دغې اصطلاح تاریخي مخینه څېړلې وي، د بشریت په اوږده تاریخي مزل کې یې د ټولنو په وده کې نقش په ګوته کړی وي، هغه ټکې یې دې په بشپړه توګه ښوولې وي، چې له امله یې کتاب اهمیت او ارزښت خپل کړی دی.

نو همدغه تشې ته په پام سره ما په دې برخه کې د یوې مقالې د لیکلو اړتیا احساس کړه، ومې پتېیله چې د کتاب د اصطلاح په هکله یو څه په روانه پښتو ژبه ولیکم او  په یوه معتبر داسې ژورنال کې یې خپاره کړم چې افغانان ورته لاس رسی ولري او  ګټه ترې واخلي.

د  دې لنډې لیکنې په مټ لوستونکي لاندې څو مهمې موخې تر لاسه کوي:

۱.  د یني او عربي ادبي نصوصو په رڼا کې د کتاب په هکله تفصیلي معلومات تر لاسه کولی شي؛

۲.  د کتاب د ریښې پېژندلو تر څنګ د کتاب د کلمې د ریښې معنا او مدلول تر لاسه کولی شي؛

۳.  هغه معنوي زیرمو ته لار موندلی شي، چې د عربي ژبې د تاریخ په اوږدو کې د کتاب توری ورته کارول شوی دی. د کتاب اصطلاحي معنا پېژندلی شي.

۴.  د دیني نصوصو په رڼا کې  د کتاب د تاریخي لرغونتیا په اړه معلومات تر لاسه کولی شي؛

۵.  بالآخره هغه لاملونه تر ګوتو کولی شي، چې له مخې یې کتاب اهمیت او ارزښت خپل کړی.

د کتاب په اړه بحث نوی نه دی چې چا یې دې په سیمه کې د څېړلو هڅه نه وي کړ ي، کېدی شي د سیمې ډېرو پوهانو د دې موضوع په اړه لا دې مخه د خپلو قلمونو ژبه چلولې وي، خو دا چې چا دې په پښتو ژبه د دیني نصوصو او عربي ادب کره متونو په رڼا کې د دې موضوع د حقیقت پېژندنې، تاریخي مخینې، اهمیت او ارزښت په هکله بحث کړی وي، دا ډول لیکنه لږ تر لږه زما تر ګوتو نه ده راغلې او  کیدی شي چا یې هم لا تر اوس مهاله زیار نه وي ګاللی.

دا مقاله لاندې یو څو پوښتنو ته د ځواب ویلو هڅه بلل کیږي:

۱.  کتاب په دیني نصوصو او عربي متونو کې څنګه ارزول شوی دی؟

۲.  د کتاب لفظ په ژبه او اصطلاح کې د کوم مفهوم لپاره کارول شوی دی؟

۳.  د بشریت په تاریخ کې د کتاب مخینه څومره لرغونې ده؟

۴.  هغه ټکې کوم دي، چې کتاب ته یې ارزښت وربښلی ؟

**د څېړنې مېتود**

په دغه لیکنه کې له تاریخي، وصفي تحلیلي مېتود څخه کار اخیستل شوی دی، معلومات یې له کره عربي سرچینو او مأخذونو را ټول شوي، د را ټولو شوو معلوماتو هره برخه په خپل خپل ځای کې توضیح، تحلیل او  مناقشه شوې، لاس ته راوړل شوې پایله یې د مقالې په پای کې له لوستونکو سره شریکه شوې ده، په مقاله کې را نقل شوي عربي نصوص په پښتو ژبه ژباړل شوي. را نقل شوي معلومات د متن دې ننه د (APA) د مېتود په رڼا کې خپلې اړونده منبع ته حواله شوي، همدا ډول په لمنلیک

کې يې د ټولو هغه اشخاصو او ځايونو په هکله معلومات ورکړل شوي ؛ چې په مقاله کې يې يادونه شوي خو په افغانی ټولنه کې د علماوو او ليکوالانو تر منځ ډېر دود او مشهور نه دي. په ټوله کې مقاله درې برخې لري، په لومړۍ برخه کې يې د کتاب د حقيقت او مفهوم ارزونه شوې، په دويمه برخه کې يې د ديني نصوصو په رڼا کې پر تاريخي مخينه بحث شوی، په درېيمه برخه کې يې هغه ټکو ته پام اړول شوی چې له مخې يې کتاب ارزښت او اهميت موندلی دی.

## د کتاب حقيقت او مفهوم

### *د کتاب د اصطلاح ژبنۍ ارزونه*

کتاب د فِعَال په وزن له آره يوه عربي کلمه ده چې د (ك – ت – ب) له رېښې اخيستل شوې ده ، د عربي ژبې د موثقو، معتبرو قاموسي سرچينو له مخې داسې ښکاري چې دغه لفظ لومړی ځل په ژبه کې د مصدر په توګه د يو ځای کولو په معنا کارول شوی دی؛ دا سرچينې ليکي چې (ك، ت او ب) يو اصل لری چې د يوه څېز له بل سره په يوځای کولو دلالت کوي(ابن فارس، ۱۳۹۹هـ ، ج ۵، ص، ۱۵۹). همدا ډول الجوهري او الأزهري دواړه هم همدا خبره کوي(الجوهري،۱۴۰۷هـ ، ج.۱، ص، ۲۸۰، الأزهري، ۲۰۰۱، ج.۱۰، ص،۸۷)، نو په عربي ژبه کې د دې جملې چې وايي: (كتب فلان كتابا) معنا دا را ځي چې فلاني سړي توري يو له بل سره يو ځای کړي او ليکلي يې دي. ابن منظور ليکي: د(الكَتْب) د توري د معنا په اړه چې څه هم ويل شوي يو له بله سره نږدې ورته والی لري، دا لفظ د دوو څيزونو يو له بل سره د يوځای کولو په معنا دی، دا چې څوك وايي: (كَتَبْتُ الكِتابَ)، له دې امله داسې وايي چې توري يو له بله سره يوځای کوي(ابن منظور، د.ت، ج.۱، ص،۶۹۸).

سره له دې چې د کتاب کلمه لومړی د ټولولو، يو له بل سره د څيزونو د يو ځای کولو په معنا کارول شوې ده، خو بيا وروسته - لکه څنګه چې عرب ژبپوهان وايي- د محاورې په ژبه کې له خپلې دغه حقيقي معنا وتلې او د مجاز د انځوريزو اصولو په رڼا کې د نورو بېلابېلو معناګانو د افادې لپاره داسې کارول شوې چې ته به وايي ګوندې همدا يې په عربي ژبه کې حقيقي معنا ده.

هغه معناوې چې په عربي ژبه کې د کتاب د لفظ په کارولو سره ترې تعبير شوی دادي:

۱. تړل: عربو د کتاب توري رېښه د تړلو په معنا هم کارولې ده، هغوی وايي: (كتب [فلان] القِرْبة) (الجوهري،۱۴۰۷هـ ، ج.۱، ص، ۲۸۰)، يعنې فلاني [له پوستکي د جوړ شوي] مشك [خوله په

مزي يعنې خولواښي کلکه ] وتړله. ابن منظور د لحياني[۱] له خولې ليکي چې وايي: (اكْتُبْ قِرْبَتَك .... أَوكِها يعني شُدَّ رأْسَها)(ابن منظور، د.ت.، ج.١، ص، ٦٩٨) يعنې[ د اکتب قِرْبَتَکَ معنا دا ده چې] د خپل مشک خوله دې [په خولواښي ]کلکه وتړه. دا چې په تړلو سره هم د مشک د خولې اړوند خواوې يو له بله سره يو ځای کيږي نو ځکه له دغې کړنې څخه هم عربو د استعاري انځوريزو اصولو له مخې د کتابت د ريښې په مټ تعبير کړی دی.

٢. تقدير: همدا ډول کتاب په عربي ژبه کې د (تقدير) په معنا هم راغلی؛ يو شاعر چې الجعدي[۲] نوميږي د الله- تعالی- په لاره کې جهاد ته د وتلو په مهال خپلې مېرمنې ته په خطاب کې کتاب د تقدير په معنا کاروي او وايي(ابن منظور، د.ت، ج.١، ص،٦٩٨):

يا ابنَةَ عَمِّى كِتَابُ اللهِ أَخْرَجَنى ... كُرْهاً وهل أَمْنَعَنَّ الله ما فعَلاَ

يعنې اې د کاکا لورکۍ، د الهي تقدير [پريکړې له کوره] وتلو ته اړ کړی يم، نو الله تعالی له خپلې کړنې ګرځولی شم؟

په عربي ژبه او ادب کې تقدير ته د کتاب لفظ په حقيقي توګه نه بلکې په مجازي توګه کارول شوی دی، تقدير ته د کتاب لفظ کارونه له دې امله سمه ده، چې هغه هم د الله په حکم ليکل شوی څيز دی چې د هر پيدا شوي او پيدا کيدونکي څيز په اړه معلومات پکې را ټول شوي، ښوول شوي او ثبت شوي دي، دغه خبره د قرآن کريم په ډيرو آيتونو کې راغلې؛ الله وايي: ﴿وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ﴾ (النمل سورت، آيت، ٧٥). مفسرين وايي: له کتاب مبين څخه لوح محفوظ مراد دی(الألوسی، ١٤١٥هـ، ج١٠، ص، ٢٢٨)، ځينې يې ليکي چې (کتاب مبين) أم الکتاب يعنې د کتابونو د مور په نامه هغه کتاب دی، چې الله پکې ټول هغه څه ثبت کړي چې له پيله بيا تر پايه آن تر قيامته پورې يې په مخلوقاتو کې پېښيږي(الطبري، ١٤٢٠ هـ، ج. ١٩، ص، ٤٩٤).

همدارنګه الله بل ځای وايي: (وَعِنْدَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَا إِلَّا هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِنْ وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ)(الأنعام سورت، آيت٥٩)، يعنې: له الله سره د غيب خزانو کونجۍ دي، چې له ده پرته پرې بل څوک علم نه لري، هغه په ټولو څيزونو په وچه

---

[۱]. نوموړی أبو الحسن علي د حازم زوی لقب يې اللحياني دی، نوموړی له ٢٠٧هجري کال څخه مخکې ژوند لاره دفراء د عصر يو ژبپوه دی، د النوادر په نامه يوکتاب يې په ميراث پرېښی دی. (کحالة د. ت، ج٧، ص٥٦)

[۲]. نوموړی عبد الله نوميږي دقيس زوی دی، دجعد له قبيلې سره تړاو لري. هغه صحابي دی، په اسلام او جاهليت دواړو زمانو کې يې ژوندر کړی او شعرونه يې ويلې، دهجرت په پنځوسم کال يې له نړۍ سترګې پټې کړې دي. وګوری (الزرکلي، ٢٠٠٢ م، ج٥، ص٢٠٧)،

کې دي که په بحر یا لمده کې علم لري، هېڅ پاڼه[له ونې] نه را لوېږي مګر دا چې الله –تعالی- پرې علم لري، د ځمکې په تیاره ګوټ کې به هېڅ داسې لنده یا هم وچه دانه را ونه ولوېږی چې په لوح محفوظ کې ثبت نه وي.

مفسرین د دغې آیت د شننې په یوه برخه کې وایي: هر څیز چې اوس دمګړی شته یا هم لا تر اوسه نشته خو په راتلونکي کې کېدی شي شتون ولري په لوح محفوظ کې ثبت او درج دي(الطبري،۱۴۲۰هـ، ج.۱۱، ص۴۰۳).

کېدی شی په آیت کې د (کتاب مبین) د را غلي لفظ مقصد– لکه څنګه چې ابن عاشور وایي- د الله تعالی علمي تقدیر وي، نو په دې اړه هم ویلای شو؛ چې نوموړی علمي تقدیر هم د ورته والي یا مشابهت د اړیکې په مټ د استعاري مجاز له لارې له دې امله د کتاب په نامه یاد شوی دی چې له یوې خوا مقدر څیزونه پکې را ټول شوي دي، له بلې خوا دغه څیزونه هېڅ زیادت او نقصان نه مني، لکه څنګه چې په یو لیکل شوي متن کې را ټول شوي او ثبت شوي څیزونه زیادت او نقصان نه مني همداسې د الله تعالی په علمي تقدیر کې هم زیادت او نقصان نه راځي(ابن عاشور،۱۹۹۷م، ج.۱۲، ص.٦٠).

٣. حکم: همدا ډول کتاب په عربي ژبه کې د حکم په معنا هم راغلی، حضرت پیغمبر -صلی الله علیه و سلم -په یوه حدیث کې چې امام بخاري په خپل صحیح کې روایت کړی وایي: (وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لأَقْضِيَنَّ بَيْنَكُمَا بِكِتَابِ اللهِ)(البخاري، ١٤٠٧هـ، ج.۳، ص،۲۴۱)، یعنې په هغه ذات [مې دې قسم وي چې] زما روح يې په [ بلاکیف] لاس کې دی چې هرومرو به ستاسې تر منځ د الهي حکم په بنسټ پريکړه کوم.

ابن قتیبة وایي: په حدیث کې د کتاب الله څخه مراد قرآن نه، بکې د الله تعالی حکم دی(ابن قتیبة،۱۳۹۳هـ ، ص،۹۴). د اچې د الله تعالی حکم په قرآن کریم کې راغلی او قران کریم هم کتاب دی، نو ویلای شو چې له حکم څخه د کتاب په لفظ سره تعبیر د محلي اړیکې یا علاقې په بنسټ د مرسل مجاز د اصولو په رڼا کې تر سره شوی، داسې چې حال د محل په نامه یاد شوی او له مظروف څخه د ظرف په لفظ تعبیر شوی دی.

٤. فرض: پردې سر بېره کتاب د فرض په معنا هم راځي؛ الله تعالی وایي: (كِتَابَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ)(النساء سورت، آیت،۲۴)، یعنې [دا حکم] الله تعالی په تاسې فرض کړی دی(الزمخشري، ۱۴۱۳ق، ج.۱، ص، ۴۹۷). الله تعالی بل ځای وایي: (وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا)(المائدة سورت، آیت ۴۵). یعنې ما په دوی[اهل کتابو] په تورات کې فرض کړې ده...

فرض خو په عربي ژبه کې له آره د لرګي په څېر يوه جسم په سر کې را منځه ته شوي محدود دوه غاښه لرونکي چاک ته وايي، همدا ډول دغه لفظ تحديدولو ته هم کارول کيږي، (ابن منظور، د. ت، ج۷، ص.۲۰۲) نو يوه الزامي حکم ته هم ځکه په شريعت کې فرض وايي چې د شارع له لوري محدود کړل شوی وي، نو دا چې کتابت تړلولو او يو ځای کولو ته وايي؛ چې له امله يې را ټول شوي څيزونه ډلبندي کيږي او تحديديږي، ،نو ويلای شو چې په عربي ژبه کې د فرض شوي يا محدود شوي حکم څخه هم د مشابهت د اړيکې په مټ د کتاب په لفظ سره د استعاري مجاز له لارې تعبير صورت موندلی دی.

۵. ګنډل: د کتاب لفظ ربښنه په عربي ژبه کې د ګنډلو په معنا هم کارول شوې ده؛ عرب وايي: (كَتَبَ[فلان] السِّقاءَ وَالْمزَادَةَ وَالْقِرْبَةَ يَكْتُبُها كَتْبا)(الزبيدي،د. ت. ج.۴، ص۱۰۲)، يعنې فلاني [له پوستکي جوړ شوی] مشک يا غړکه [په دوه مزو] وګنډله او په ګنډلو سره يې ګنډي . د عربي معتبرو قاموسونو ليکوالان د اللحياني له خولې ليکي چې وايي: (اكْتُبْ قِرْبَتَك اخْرُزْها)(ابن منظور، د. ت. ج.۱، ص، ۶۹۸، الزبيدي،د. ت. ج.۴، ص،۱۰۲)، يعنې د (اكْتُبْ قِرْبَتَك) معنا داده چې خپل مشک نګينده کړه.

څرنګه چې په ګنډلو کې هم يو څيز له بل سره يوځای کيږي، نو له همدې امله په عربي ژبه کې د ګنډلو له صنعت څخه د تعبير په برخه کې هم د استعاري مجاز د انځوريزو اصولو په مټ د مشابهت د اړيکې له مخې د کتابت له ربښې ګټه اخيستل شوې ده.

۶. ليکل: د کتاب کلمه په عربي ژبه کې له پخوا راهيسې د مصدر په توګه ډېره د ليکلو په معنا کارول شوې ده،(الزبيدي،د. ت. ج. ۴، ص، ۱۰۰)، الله د هغه ارزښتونو په اړه چې په حضرت عيسی - عليه السلام- يې لورولي وايي: ﴿وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ ﴾ (أل عمران سورت، آيت، ٤٨). يعنې: او [الله تعالی] ورته ليکل او حکمت ښيي. مفسرين وايي: په څرګنده خو د کتاب څخه دلته مراد ليکل دي(ابن کثير، ١٤٢٠هـ، ج. ۲، ص، ۴۴). امام طبري هم په دې اړه همدا خبره کوي او وايي: کتاب ليک دی چې عيسی - عليه السلام- به په خپل لاس ليکه(الطبري،١٤٢٠هـ ، ج. ٦، ص، ۴۲۲).

ليکلو ته له دې امله په عربي ژبه کې کتابت وايي چې د دغې صنعت له لارې حرفونه او ژبني توکي يو له بله سره يو ځای کيږي، السمين الحلبي[1] وايي: د عربو په عرف کې کتابت د هجاء د تورو يو له بل سره يو ځای کولو ته وايي(السمين،د. ت، ج۱، ص، ۸۵). نو ليکلو ته د (کتابت) لفظ کارول د استعاري مجاز له لارې تر

---

[1]. نوموړی أحمد نوميري د يوسف زوی د شام د حلب دی، خو په قاهره کې مېشت وو، په تفسير، ژبپوهنه او د قراءاتو علم کې يې مهارت او شهرت لاره، ډېر کتابونه يې ليکلي چې يو يې د الدر المصون په نامه د قرآن کريم تفسير دی، په ۷۵۶هـ کال يې له نړۍ سترګې پټې کړې دی(الزرکلي، ۲۰۰۲م، ج.۱، ص.۲۷۴).

سره شوي دي، د ليکلو او د (کَتْب) لفظ د حقيقي معنا تر مينځ د مشابهت يا يو له بله د ورته والي اړيکه شته، چې له امله يې په ژبه کې دا لفظ له خپلې حقيقي معنا اېستل شوی او د ليکلو لپاره کارول شوی دی. د ليکلو په معنا د دغې لفظ کارول اوس مهال د خلکو تر منځ دومره زيات دود شوي چې له امله يې د هغې حقيقي معنا له سره هېره شوې ده، هېڅوک هم اوس دا گمان نه کوي چې ليکل به د دغې لفظ مجازي معنا وي.

۷. ليکل شوې پاڼه: همدا ډول کتاب په عربي ژبه کې د محاورې پر مهال د ظرف يعنې هغه څه په معنا هم راغلی، چې ليکل پکې شوي وي؛ د حضرت پيغمبر -صلی الله عليه وسلم- په يوه اوږده حديث کې چې حاکم يې په خپل کتاب کې د عبد الله بن عباس په روايت را نقلوي او وايي صحيح دی داسې راغلي: (وَمَنْ نَظَرَ فِي كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَكَأَنَّمَا يَنْظُرُ فِي النَّارِ) (الحاکم، ١٤١١هـ،ج.۴، ص،۳۰۱)، يعنې څوک چې دخپل [ديني] ورور ليکنه [ليکلې شوې پاڼه] د هغه له اجازې پرته گوري داسې دی لکه په اور کې چې گوري. په پورته ياد حديث کې کتاب د هغه پاڼې يا ظرف په معنا راغلی، چې ليکنه پرې شوې وي. زبيدي ليکي چې کتاب هغه پاڼې يا ورقې ته هم وايي چې ليکل پکې کېږي(الزبيدي،د. ت.ج.۴، ص، ۱۰۱). نو کېدی شي ليکل شوې پانه هم د مرسل مجاز له لارې د حال د اړيکې په مټ له دې امله د کتاب په نامه نومول شوې وي چې ليکل پرې شوي دي، يا هم کېدی شي د استعاري مجاز له لارې د مشابهت د اړيکې په مټ له دې امله په دې نامه نومول شوې وي چې د ليک له لارې ډېر توري پکې يو له بله سره يو ځای شوي دي.

۸. مشوانۍ: همدا ډول د کتاب لفظ په عربي ژبه کې د رنگ د مشوانۍ په معنا هم کارول شوی دی؛ زبيدي ليکي: کتاب مشوانۍ ته ويل کيږی، چې ليکل ترې کيږی(الزبيدي،د. ت.ج.۴، ص، ۱۰۱)، مشوانې هغه لوښی دی؛ چې ليکونکي رنگ پکې ساتي، له همدې امله هغه هم د پانو او قلم په څېر د کتاب ليکلو له وسايلو او توکو گڼل کيږي، نو معلوميږي چې دا لوښی هم د مرسل مجاز له لارې چې اړيکه يا علاقه يې آليه يعنې وسيله ده د کتاب په نوم نومول شوی دی.

۹. مکتوب: کتاب مصدر دی او په عربي ژبه کې په مجازي توگه د ليکنې په معنا راغلی، مصدر په عربي ژبه کې ډير ځله داسم مفعول په معنا کارول کيږي؛ د بېلگې په توگه (خلق) د مخلوق په معنا راغلی؛ الله تعالی وايي: (هَذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ) (لقمان سورت، آيت: ۱۱) يعنې دغه د الله [تعالی] مخلوق دی، نو ما ته راوښيئ چې له هغه پرته بل چا کوم څه خلق کړی دي؟

همدا ډول (رزق) په عربي ژبه کې مصدر دی او د مرزوق په معنا راغلی؛ الله تعالی وايي: (أُولَئِكَ لَهُمْ رِزْقٌ مَعْلُومٌ) (الصافات سورت، آيت۴۱)، يعنې د هغوی لپاره يو معلوم رزق [يعنې خوراکي توکي

دي ]. نو همدغه اصل ته پام سره کتاب هم په عربي ژبه کې د محاورې یا خبرو اترو په ترڅ کې له خپلې مشهورې مجازي معنا وتلی چې لیک دی او د دویم ځل لپاره د مجازي صنعت له لارې د مکتوب یعني اسم مفعول په معنا کارول شوی دی؛ ابن منظور د الأزهري له خولې لیکي چې وایي: (الكِتابُ اسم لما كُتب مَجْمُوعاً) (ابن منظور، د. ت. ج. ۱، ص ۶۹۸) ، یعنې کتاب د هغه څیز نوم دی چې ټول یو ځای سره لیکل شوي وي.

له دغې خبرې معلومیږي چې د لیکل شوي څیز لپاره د کتاب مصدري لفظ کارونه د اشتقاقي اړیکې په مټ د مرسل مجاز د انځوریز صنعت له مخې تر سره شوې ده، خو اوس یې دغه مجازي معنا د لوستو او نالوستو تر منځ آن دومره عامه، خپره او مشهوره شوې؛ چې د لفظ خپله حقیقی معنا یې له خلکو هېره کړې او له منځه تللې ده، همدغه مجازي معنا یې اوس مهال د حقیقي معنا حیثیت خپل کړی، هېڅوک هم گمان نه کوي چې نوموړې معنا به د کتاب د لفظ حقیقي معنا نه وي .

د کتاب لفظ په اړه د پورته یاد شوې تجزیې او تحلیل څخه دا خبره په زغرده څرگندیږي، چې دغه لفظ په عربي ژبه کې لومړی د ټولولو یعنې یوشی له بل هغه سره د یوځای کولو په معنا کارول شوی دی او بیا وروسته د لیکلو په گډون د پورته یاد شوو نورو معناوو د تعبیر په برخه کې هم ځکه له نوموړي لفظ څخه په مجازي توگه کار اخیستل شوی دی، چې په ځینو کې یې د ټولولو، یوله بل سره د یوځای کولو مفهوم پروت دی چې له مخې یې د کتاب له حقیقي معنا سره نیغ په نېغه تړاو لري او د ځینو نور یې بیا د کتاب د مجازي مشهورې معنا سره چې لیکنه ده د مرسل مجاز د کومې بلې اړیکې له مخې پوخ تړاو شته چې هر چا ته له ورایه په څرگنده توگه ښکاري.

***دکتاب اصطلاح معنا***

اصطلاح خو په حققت کې د صلح له ریښې څخه د افتعال په وزن جوړه شوې کلمه ده، چې په داسې یوه لفظ یې اطلاق کیږی چې د یوه علمي تخصصي مفهوم د افادې لپاره د متخصصو پوهانو په اتفاق سره کارول شوی وي. دغه تخصصي نوې معنا په حقیقت کې د نوموړي لفظ مجازي مفهوم دی چې اصطلاحي معنا بلل کیږي، د اصطلاحي معنا لپاره د الفاظو د کارولو په مهال باید د هر لفظ حقیقي معنا له پامه ونه غورځول شي، باید هرومرو یو لفظ د داسې علمي تخصصي مفهوم لپاره وکارول شي چې د همدغه لفظ له حقیقي ژبني مفهوم سره اړیکه ولري.

نو د کتاب اوسني عام مفهوم او معنا ته په کتو ښکاري چې دغه لفظ هم اوس له خپلې ژبنۍ مصدري معنا بهر شوی او د پوهانو تر منځ له کاغذي پاڼو څخه د جوړ شوي یوه داسې څېز نوم گرځول شوی دی چې

د یوې موضوع په هکله هر اړخیز معلومات پکې راټول شوي، لیکل شوي او خوندي وي. ښايي لا تر اوسه د کتاب د اصطلاحي دقیقې معنا په هکله د علماوو تر منځ د نظر یووالی نه وي رامینځ ته شوي، خو د پورته ژبني تحلیل تر څنګ د قاموسونو د دې خبرې په رڼا کې چې وايي: کتاب د هغه څه نوم د ی چې یو ځای لیکل شوی وي(الأزهري،۲۰۰۱، ج.۱۰، ص،۸۸) کولی شو دغه مصطلح په دوه ډوله تعریف کړو:

۱. کتاب هغه څو مخیزه لیکنې ته وايي چې یوه موضوع یې د مختلفوا څېړکیو په ترڅ کې له هره اړخه څېړلې وي.
۲. کتاب د هغه پاڼو لرونکي جسم نوم دی، چې د یوې موضوع په اړه معلومات پکې راټول کړل شوي وي او وقايې ولري.

## د کتاب تاریخي مخینه

کتاب په انساني ټولنه کې ډېره اوږده تاریخي مخینه لري، د کتاب لیکلو او لوستلو لړۍ د انسانانو د ژوند له هماغه لومړي پیل سره تړلې ده؛ په ځینو روایاتو کې چې مفسرینو یې یادونه کړې راغلي؛ چې الله تعالی حضرت آدم -علیه السلام- ته لس صحیفې رالېږلې دي(الخازن، ١٤١٥هـ، ج.۱، ص.۱۴۳). صحیفه لکه څنګه چې وروسته یې یادونه راځي په عربي ژبه کې د کتاب په معنا راغلې ده. په همدغه روایت کې راغلي چې د آدم -علیه السلام- له صحیفو څخه یوه صحیفه د هجا یعنې ألفباء تورو پورې تړاو لاره(الخازن، ١٤١٥هـ، ج.۱، ص،۱۴۳). له ځینو روایاتو چې ابن حبان صحیح بللي، څرګندیږي چې د اسماني کتابونو لړۍ د صحیفې په نامه د حضرت شیث-علیه السلام- چې د آدم -علیه السلام- زوی دی، پیل شوې ده؛ ابن حبان د حضرت أبوذر غفاري په روایت د حضرت پیغمبر -صلی الله علیه وسلم- له خولې لیکي چې الله – تعالی- شیث -علیه السلام- ته پنځوس او حضرت ادریس -علیه السلام- ته بیا دېرش صحیفې را لېږلې دي(ابن حبان،١٤١٤. ج.۲، ص۷۷). شیث د آدم -علیه السلام- زوی او ادریس بیا د آدم او شیث علیهما السلام څخه وروسته لومړی نبي بلل کیږي(ابن کثیر، ١٤٠٨هـ، ج.۱، ص،۹۳). همدا ډول د لیک په هکله هم د أبوذر په روایت د پورته یاد شوي حدیث په یوه برخه کې راغلي چې حضرت ادریس -علیه السلام- هغه لومړنی کس دي چې په قلم سره یې د لومړي ځل لپاره خط لیکلی دی(ابن کثیر،١٤٠٨هـ، ج.۱، ص،۹۳).

که دا روایات په ریښتیا هم صحت ولري نو بیا خو ویلای شو چې کتاب د انسان له ژوند سره نه شلیدونکې اړیکې لري چې له هغه پرته یې هیڅکله هم ژوند نه دی کړی.

### په عربي مصادرو کې د کتاب د نومونو څرګ

کتاب په عربي ژبه کې په نورو مختلفو نومونو هم یاد شوی چې ځینې یې دلته دې یادونې وړ دي:

۱. توراة: کتاب په عربي ژبه کې د تورات په نامه یاد شوی، زبیدي لیکي: کتاب تورات دی (الزبیدي، د. ت، ج.۴، ص، ۱۰۱). امام دارمي د کعب[1] له خولې په یوه أثر کې چې د حدیث علم ځینې ماهرین یې حسن بولي لیکي چې نوموړی وایي: (عَلَيْكُمْ بِالْقُرْآنِ، فَإِنَّهُ فَهْمُ الْعَقْلِ، وَنُورُ الْحِكْمَةِ، وَيَنَابِيعُ الْعِلْمِ، وَأَحْدَثُ الْكُتُبِ بِالرَّحْمَنِ عَهْدًا، وَقَالَ فِي التَّوْرَاةِ: يَا مُحَمَّدُ إِنِّي مُنَزِّلٌ عَلَيْكَ تَوْرَاةً حَدِيثَةً، تَفْتَحُ فِيهَا أَعْيُنًا عُمْياً، وَآذَاناً صُمًّا، وَقُلُوبًا غُلْفًا) (الدارمي، ۱۴۰۷، ج.۲، ص، ۵۲۵). یعنې په قرآن کریم منګولې ولګوئ، بېشکه هغه د عقل لاربښوود، د حکمت روښنایي، د پوهې سرچینه، د الله [تعالی] سره تړاو لرونکی معاصر کتاب دی، [الله تعالی] په تورات کې ویلي: اې محمده زه تاته نوی تورات [یعنې کتاب] در استوم، چې ړندې سترګې، کاڼه غوږونه او بند زړونه به پکې خلاصېږي.

په پورته یاد اثر کې په روښانه ټکو کتاب د تورات په نامه یاد شوی دی. تورات خو د عربي ژبپوهانو په اند د تَفْعِلَة یا هم فَوْعِلَة په وزن د (وَرَى يَرِي) د فعل مصدر دی. د الأزهري د خبرې له مخې چې د امام الفراء له خولې یې را نقل کړ یې دغه فعل د اور لګولو یا روښانولو په معنا راغلی دی (الأزهري، ۲۰۰۱م، ج.۱۵، ص، ۲۲۱). نو ښکاري چې تورات لکه څنګه چې ژبپوهان وایي مصدر دی، خو د اسم فاعل په معنا له دې امله د کتاب نوم ګرځول شوی چې خلک له لاروړکیو، تپو تیارو رڼایی ته را وباسي، لار ورته ښیي. همدارنګه کېدی شي تورات د (وری) مصدر وي چې د دفع کولو په معنا راځي (الزبیدي،د.ت. ج.۴۰، ص،۱۹۲). ښایي له دې امله د کتاب نوم هم ګرځول شوی وي چې د خلکو له مخې تیارې لرې کوي، مصیبتونه ترې دفعه کوي.

۲. الجِرْجِس: عرب کتاب د (جرجس) په نامه هم یادوي؛ امرؤ القیس یو عرب نامتو شاعر وایي: (امرؤ القیس، ۱٤۲۵هـ، ص، ۱۱۵):

تَرَى أَثَرَ القَرْحِ في جِلْدِهِ ... كَنَقشِ الخَواتِمِ في الجِرْجِسِ

---

[1]. نوموړی د ماتع زوی یو تابعي دی، د جاهلیت په زمانه کې د یهودانو له لویو پوهانو بلل کېده، د ابوبکر رضي الله د خلافت په زمانه کې یې ایمان راوړی، د پخوانیو امتونو به هکله ډېر معلومات له همدغه څخه روایت شوي دي. وګورئ (زرکلي،۲۰۰۲م ،ج۵، ص۲۲۸.

یعنې: ته یې په پوست د زخم نښې په کتاب کې د مُهر د نښو په څېر وینې. ژبپوهان د امرؤ القیس د شعر په همدغه بیت استدلال کوي او وایي: جرجس صحیفې ته وایي(ابن سیده، ۱۴۲۱هـ، ج.۷، ص، ۵۸۲. ابن منظور، د. ت. ج.٦، ص، ۳۷).

داسې ښکاري چې جرجس په عربي ژبه کې لومړی د ورېږ غوماشي لپاره کارول شوی دی(ابن سیده، ۱٤۲۱هـ، ج.۷، ص، ۵۸۲) خو بیا وروسته د مومو او خټو هغې توکړې په دې نامه یادې شوې دي چې د مهر لګولو لپاره کارول کېدې(الزبیدي، د. ت. ج.۱۵، ص،۴۹۳). نو دا چې عربو څنګ یو وخت نوموړی لفظ د کتاب لپاره هم کارولی د بحث وړ خبره ده، زه داسې انګېرم چې کېدی شي دا نومونه له دې امله تر سره شوې وي چې په کتاب کې د لیکنې نخښې له هغو سرو نخښو سره ورتوالی لری چې غوماشه یې له چیچلو وروسته د انسان په بدن پرېږدي.

۳. الرَّقُّ: راء او قاف په عربي ژبه کې دوه ریښې لري، د یوې رېښې له مخې صفت دی چې نرم شي ته وایي او د دویمې له مخې بیا هغه څیز ته ویل کېږي چې لیکل پرې کیږي(ابن فارس، ۱۳۹۹هـ، ج. ۲، ص، ۳۷٦). نو همدا لامل دی چې عرب د نري پوستکي ټوټې ته هم ځکه رَق وایي؛ چې لیکل پکې کیږي(الجوهري،۱۴۰۷هـ،ج.۴،ص،۱۴۸۳). همدا ډول عرب سپینې پاڼې ته هم رق وایي(الفراهیدي، د. ت. ج.۱، ص، ۵)، الله تعالی وایي:﴿ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ فِي رَقٍّ مَنْشُورٍ﴾(الطور سورت، آیت،۲-۳) ، یعنې سوګند په کتاب چې یوه پرانیستې پاڼه یا پوستکي کې [په منظم ډول] لیکل شوی دی(الألوسي، د. ت. ج.۱۴، ص، ۲۸). په دې آیت کې (رق) هغه صحیفې دي چې څوک یې د قیامت په ورځ په ښي لاس او څوک یې بیا به چپ لاس اخلی(الفراء،د. ت. ج. ۳، ص، ۹۱).

له پورته یاد تحلیل څخه ښکاري چې د (رق) لفظ په عربي ژبه کې لومړی د نرم او نري څیز لپاره کارول شوی، خو بیا وروسته د استعاري مجاز له لارې د ورتوالي د اړیکې په مټ له دې امله پوستکي او سپینې پاڼې ته هم رق ویل شوي چې عادتا دغه دواړه توکی چې لیکل پکې کېږي هم نرم او نرې وي.

۴. الرقیم: رقیم په عربي ژبه کې د کتاب په معنا راغلی، ابن قتیبة وایي: رقیم کتاب ته وایي، چې د (رقم) له ریښې د فعیل په وزن د مفعول یعنې مرقوم یعنې مکتبو په معنا راغلی چې کتاب ته وایي(ابن قتیبة،۱۳۹۸ هـ ،ص، ۲٦۳). په یوه حدیث کې راځي چې راوي وایي: (كان يُسَوِّى الصُّفوفَ حَتّى يَدَعَهَا مثلَ القِدْحِ أَوِ الرَّقِيم)( ابن الأثير ،۱۳۹۹هـ ، ج.۲، ص، ۵۵۴ ) [1]. یعنې پیغمبر -صلی الله علیه

[1]. ابن حبان په خپل صحیح کې د النعمان بن بشیر په روایت داسې وایي: (كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُسَوِّي الصَّفَّ حَتَّى يَجْعَلَهُ مِثْلَ الْقِدْحِ، أَوِ الرُّمْحِ) صحیح ابن حبان، ۵/ ۵۳۸، حدیث شمېره: ۲۱٦۵.

وسلم- به [د لمانځه] صفونه د نېژې يا هم د کتاب [د کربنو] په څېر سيده کول. ابن الأثير ليکي: رقيم د فعيل په وزن د مفعول په معنا کتاب ته وايي، يعنې پيغمبر –صلى الله عليه وسلم- به د لمانځه صفونه داسې سيده کول چې هېڅ ډول کوږوالی به نه پکې تر سترګو کېده.

په حقيقت کې خو رقيم د فعيل په وزن د (رقم) له رېښې اخيستل شوی توری دی. (رقم) په عربي ژبه کې د ليکلو په معنا راغلی (الجوهري، ۱۴۰۷هـ، ج. ۵، ص. ۱۹۳۵، ابن فارس، ۱۳۹۹هـ، ج.۲، ص.۴۲۵)، الله تعالی وايي ﴿كِتَابٌ مَرْقُومٌ﴾(المطففين سورت، آيت ۹ او ۲۰)، يعنې [هغه] ليکل شوی کتاب دی.

رقيم په عربي ژبه کې هغه تختې ته هم وايې چې ليکل پرې شوې وي (ابن منظور، د. ت. ج۳، ص، ۲۴۸). له پورته ياد شوي تحليل څخه څرګندېږي چې (رقيم) د (رَقْم) له توري اخيستل شوی چې په عربي ژبه کې خط يا ليك ته وايي او بيا د اسم مفعول په معنا د مرسل مجاز د انځوريز صنعت له لارې د حال يا ظرفيت د اړيکې په مټ د کتاب لپاره کارول شوی دی.

۵. زَبور: د عربي ژبې متونو کې وينو چې کتاب ته زبور هم ويل شوي، الله وايي: ﴿وَآتَيْنَا دَاوُودَ زَبُوراً﴾(النساء سورت، آيت، ۱٦۳)، يعنې موږ داوود ته کتاب ورکړی دی. زبور دفَعول په وزن د(زبر) له رېښې اخيستل شوې کلمه ده او ليکل شوي کتاب ته وايي (ابن سيده،١٤٢١هـ، ج. ۹، ص،۳۳).

(زِبْر) په عربي ژبه کې ليکلوته وايي (الزبيدي،د . ت. ج.۱۱، ص، ۳۹۸). همدا ډول زِبْر يو په بل د پاسه د بنيان يا دېوال جوړولو ته هم وايي (ابن سيده،١٤٢١هـ ، ج.۹، ص،۳۳). نو زَبور د فعول په وزن د مفعول يعنې (مزبور) په معنا راغلی توری دی چې په (مکتوب) يعنې ليك شوي څيز دلالت کوي. په حقيقت کې خو (زبر) لکه څنګه چې ابن سيده ليکي ډبرې ته وايي او له همدې اسمي رېښې بيا د فعل په توګه کار اخيستل شوی او په ډبرو سره د کوهي د منځ پوښلو لپاره کارول شوی دی، عرب وايي: (زَبَر البئر زَبْراً) (ابن سيده،١٤٢١هـ ، ج. ۹، ص،۳۳) يعنې: هغه د کوهی [منځ] په ډبرو پوښ کړ.

له پورته ياد تحليل څخه څرګندېږي؛ چې (زبر) لومړی په عربي ژبه کې د ډبرې په معنا راغلی، بيا په ډبرو سره د کوهي پوښلو صنعت ته د مرسل مجاز له لارې د سببي اړيکې په مټ لېږدېدلی دی، خو بيا وروسته له همدې لفظ څخه د استعاري صنعت له لارې د ديوال د پخسو جوړولو لپاره کار اخيستل شوی او وروسته بيا د ليکلو صنعت ته د استعاري مجاز په مټ له دې امله را ليږدېدلی دی چې په دې صنعت کې هم په ډبرو د څا د پوښلو او پخسو جوړولو په څېر د يوه توکي له بل سره د يوځای کولو له امله نيغې سيده کرښې منځ ته راځي.

۶. السِّفر: په عربي ژبه کې کتاب ته سفر هم ویل کیږي، الله تعالی وايي: (مَثَلُ الَّذِينَ حُمِّلُوا التَّوْرَاةَ ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوهَا كَمَثَلِ الْحِمَارِ يَحْمِلُ أَسْفَاراً)(الجمعة سورت، آیت، ۵). یعنې د هغه چا مثال چې تورات پرې بار شوی خو عمل نه پرې کوي داسې دی لکه خر چې د کتابونو بار لېږدوي.

عرب ژبپوهان وايي: اسفار لويو لويو کتابونو ته وايي، مفرد يې سفر دی(ابن منظور، د. ت. ج.۴، ص،۳۷۶). نو په آیت کریمه کې کتاب په زغرده د سفر په نوم یاد شوی دی. په حقیقت کې سفر کشف یا لوڅوالی ته ویل کیږي. خو کتابت یا لیکنې ته هم ځکه سفر او لیکوال ته سافر وايي چې یو ذهني مفهوم روښانه کوي، را لوڅوي يې او توضیح کوي يې، نو کتاب ته هم له همدې امله سِفْر وايي چې په روښانه ډول معلومات وړاندې کوي، توضیح کوي يې. یعنې کتاب د توضیح او روڼتیا سبب او لامل دی، نو ښکاري چې د مرسل مجاز انځوریز صنعت له لارې سبب د مسبب په نامه نومول شوی دی.

۷. صحیفة: همدا ډول د عربي ژبې په ډېرو نصوصو کې کتاب ته د صحیفې کلمه کارول شوې ده، الله تعالی وايي﴿أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى﴾(النجم سورت، آیت، ۳۶). یعنې آیا هغه ته د هغه څه په اړه معلومات نه وو ورکړل شوي، چې د موسی په صحیفو کې راغلي وو. نسفي وايي: د موسی صحیفې توارت دی(النسفي، د.ت. ج.۲، ص،۱۱۸۲). سیوطي هم د موسی صحیفې د تورات اسفار بولي(المحلي، د. ت. ص، ۷۰۳).

الله تعالی بل ځای هم وايي: (إِنَّ هَذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَى صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى)(الأعلی سورت، آیت، ۱۸- ۱۹)، یعنې یقینا چې د دغه [قران کريم، یا هم د دغه سورت مضمون] په لومړنیو صحیفو[کتابو] کې چې د ابراهیم او موسی صحیفې دي راغلی دی. په یوه حدیث کې چې ابن حبان يې صحیح بولي صحیفة د کتاب په نامه راغلې؛ د حدیث راوي وايي: (قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ ، كَمْ كِتَاباً أَنْزَلَهُ اللَّهُ؟ قَالَ: مِائَةُ كِتَابٍ، وَأَرْبَعَةُ كُتُبٍ، أُنْزِلَ عَلَى شِيثٍ خَمْسُونَ صَحِيفَةً، وَأُنْزِلَ عَلَى أَخْنُوخَ ثَلاَثُونَ صَحِيفَةً، وَأُنْزِلَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ عَشَرُ صَحَائِفَ، وَأُنْزِلَ عَلَى مُوسَى قَبْلَ التَّوْرَاةِ عَشَرُ صَحَائِفَ، وَأُنْزِلَ التَّوْرَاةُ وَالإِنْجِيلُ وَالزَّبُورُ وَالْقُرْآنُ) ( ابن حبان،۱٤۱٤هـ، ج.۲، ص، ۹۸). یعنې: ومې ویل: دالله استازیه! ټول څو[آسماني]کتابونه نازل شوي؟ هغه وویل: یو سل او څلور کتابونه، پنځوس صحیفې شیث ته، دېرش بیا أخنوع[ادریس] ته، لس ابراهیم او لس بیا موسی ته له تورات وړاندې نازلې شوې، تورات انجیل زبور او قرآن.

په پورته یاد حدیث کې صحیفې ته د کتاب توری او کتاب ته بیا د صحیفې توری کارول شوی او ښيي چې صحیفة په عربي ژبه کې کتاب ته هم وايي. د (صاد، حاء او فاء) توري په حقیقت کې د یوه څیز په پلن والي او پراخوالي دلالت کوي، ابن فارس لیکي، چې صحیف د ځمکې مخ ته وايي، همدارنګه صحیفه هغه توکي ته هم ویل کیږي چې لیکنه پرې کیږي(ابن فارس، ۱۳۹۹هـ، ج.۳،ص، ۳۳۴).

نو د ابن فارس له دې څرګندونې ښکاري چې د صحيفې په نامه د کتاب نومونه هم يوه مجازي نومونه ده چې يا يې د مشابهت او ورته والی د اړيکې له مخې د استعارې مجاز اصولو ته په پام سره صورت موندلی، يا هم دا نومونه د جزئي علاقې له مخې د مرسل مجاز د انځوريزو اصولو په رڼا کې تر سره شوېده.

سربېره پردې غواړم دلته يوې نوې دېرې ارزښتناکې خبرې ته ګوته ونيسم هغه دا چې د پورته ياد شوو ديني نصوصو تر څنګ د عربي ژبې د قواميسو له څرګندونو هم ښکاري چې ښايي په عربي ژبه کې د هغه څه لپاره لومړی د صحيفې نوم کارول شوی وي چې اوس د کتاب په نوم شهرت لري؛ د دې خبرې د اثبات لپاره کولی شم دوه دليله وړاندې کړم:

لومړی: اسماني لومړني کتابونه چې آدم عليه السلام او له هغه وروسته نورو پخوانيو انبياوو ته راغلي په ديني رواياتو کې د صحيفو په نامه ياد شوي دي؛

دويم: همدا ډول عربي قاموسونه ليکي چې صحيفه د يوه څيز په پلنوالی او پراخوالي دلالت کوي، هغه څه هم پلنوالی لري چې ليکنه پرې کيږي او دکتاب په نامه ياديږي، نو همدې حقيقت ته په کتو کېدی شي د کتاب لپاره په عربي ژبه کې تر ټول لومړی همدا لفظ کارول شوی وي.

۸. القِطُّ: همدا رنګه عربو د (قِطّ) لفظ هم د کتاب لپاره کارولی دی؛ الله تعالی په قرآن کريم کې د مکې مشرکانو يوه خبره رانقلوي، چې ويل يې: ﴿رَبَّنَا عَجِّلْ لَنَا قِطَّنَا قَبْلَ يَوْمِ الْحِسَابِ﴾(ص سورت، آيت، ۱۶) يعنې زمونږ پالونکيه ربه [دعملونو]کتاب مو زر ترزره [دمحاسبې له ورځې مخکې]راکړه. ابن منظور د ازهری له خولې ليکي چې وايي: قط کتاب ته وايي. او زياتوی، چې فراء وايي: قط ليکلې پاڼې ته ويل کيږي(ابن منظور، د. ت. ج.۷، ص،۳۸۰). ابن قتيبة هم همدا خبره کوي چې قط ليکلې پاڼې ته وايي(ابن قتية،۱۳۹۸ هـ ، ص، ۳۷۸ ). زَبِيْدي د أُمَيَّة ابن أبي الصُّلْت د شعر په يوه بيت چې د (قِط) کلمه پکې راغلي او وايي:

قَوْم لهم ساحةُ العِراقِ ... جَميعاً، والقِطُّ والقَلَمُ[1]

استدلال کوي، ليکي چې (قط) په عربي ژبه کې کتاب ته وايي(الزبيدي، د. ت. ج.۲۰، ص، ۴۱).

ابن فارس ليکي: ( قاف او طاء) يو صحيح اصل دی؛ چې د يوه څيز په ساره غوڅولو ته ويل کيږي، نوموړی استدلال کوي، چې عرب وايي:(قططت الشيء أقطُّه)، يعنې: يو څيز مې غوڅ کړ او غوڅوم يې. هغه زياتوي، چې (القِط) هغه چک ته هم ويل کيږي چې خلکو ته د جايزې د ورکړې لپاره ليکل کيږي(ابن فارس، ۱۳۹۹هـ

---

[1]. يعنې هغه يو قوم دی چې قلم، کتاب او د عراق ټوله ساحه په واک کې لري.

، ج. ۵، ص ،۱۳). له دې خبرې ښکارې چې عربو د (قِطّ) لفظ لومړی د غوځولو په معنا کارولی، خو بیا یې وروسته د مشابهت او ورته والي د اړیکې له مخې په مجازي توګه له دې امله د کتاب په معنا استعمال کړی، چې کتاب خو هم د جوایزو د چک په څېر د غوځو شوو څو پاڼو یوه ټولګه ده.

۹. المجلة: مجله په اصل کې صحیفې ته وایي، چې لیکل پکې کیږي (الفراهیدي، د.ت. ج.٦، ص، ۱۴۱)، ابن فارس او زبیدي دواړه د أبوعبیدة په حواله لیکي؛ چې عرب هر کتاب ته مَجله وایي (الزَّبیدي، د.ت. ج.۲۸، ص، ۲۲۵). ابن فارس زیاتوي چې کتاب یا صحیفې ته د مجلې ویل یوه شاذه له خپل چوکاټ څخه وتلې چاره ده، خو کېدی شي دا لفظ له جلال څخه اخیستل شوی وي چې عظمت او لویی ته وایي، نو له دې امله چې صحیفه یا کتاب کې هم علم پروت دی، علم عظمت او لویي لري، نو کېدی شي عربو هم کتاب د همدغه عظمت له امله د مجلې په نوم یاد کړی وي (ابن فارس،۱۳۹۹هـ ، ج.۱، ص، ۳۱۹). همدارنګه د (جلل) توری په عربي ژبه کې د شمول او احاطې په معنا هم کارول کیږي؛ عرب هغه باران چې ځمکه او نباتات ټول په خپله لمنه کې را نغاړي او خړوبوي یې د (مُجَلِّل) په نامه یادوي (ابن فارس،۱۳۹۹هـ ، ج. ۱، ص، ۳۱۹)، نو کېدی شي کتاب یې له دې امله په دغه نامه نومولی وي چې په خپلو پاڼو کې ډېر معلومات را نغاړي.

پر دې سر بېره کېدی شي مجلة د (مَجَل) له ریښې اخیستل شوی وي؛ چې د تڼاکې هغه نري پوستکي ته ویل کیږي چې اوبه پکې را ټولې شوې وي (الزبیدي، د.ت.، ج.۳۰، ص،۳۹۰). نو کېدی شي کتاب یې هم له دې امله د مَجلَّې په نوم نومولی وي؛ چې د تڼاکې د نري پوست په څېر په خپلو پاڼو کې ډیر مسایل او معلومات را نغاړي او خوندي یې ساتي.

## د کتاب اهمیت

کتاب د بشر د فکري اخلاقي فرهنګي او ټولنیز پرمختګ په برخه کې ډیر مهم رول لوبولی دی. که کتاب او لیکنه نه وای، خدای خبر چې بشر به د خپل تکامل او بشپړتیا اوسني پړاو ته په آسانی لاره موندلي وای. دا چې کتاب به څنګه د بشر د تکامل او بشپړتیا لپاره لاره هواره کړي وي؟ او لامل به یې څه وي؟ د دې پوښتنې ځواب کېدای شي د کتاب په هغه ځانګړتیاوو کې ومومو چې موږ یې لاندې یادوو.

۱. کتاب په خپلو پاڼو کې اسماني لارښوونې خوندي کړې دي

له دې سره چې الله تعالی د پرمختګ او لارښوونې لپاره بشر ته د عقل اوفکر په څېر نور ډېر لوی لوی نعمتونه ور پېرزو کړي دي، چې پر مټ یې وکولی شي په ځمکه کې د الله د خلافت او ځای ناستې پېتی په سمه توګه سر منزل ته ورسوي، خو د عقل او فکر دا لویه هستي خپله د یوه لارښود لارښوونې

ته اړتیا لري، په یوازې سر هېڅکله هم د بشر بېړی مطلوب ساحل ته نشي رسولی، نو له همدې امله الله تعالی له هماغه پیله وعده ورکړې، چې وخت ناوخته به یې لارښوونه کوي او ورته وايي: ﴿قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنْ تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾(سورة‌البقرة، أيت، ۳۸) يعنې: ورته ومو ويل چې ټول له دې ځایه[ځمکې ته] ښکته شی، تاسو ته به [وخت ناوخت] زما لارښوونې درځي، چا چې زما د دې لارښوونو پیروي وکړه، نو هغه نه څه وېره لري او نه هم غم.

الله تعالی بشر ته خپلې لارښوونې هم د کتاب له لارې را استولې، دا لارښونې -لکه څنگه چې د حديثو په روايتو کې راځي- په یو سلو څلورو کتابونو کې راغلي دي، چې وروستی هغه یې د معجزې په توگه خپل وروستي پیغمبر حضرت محمد -صلی الله علیه وسلم- ته را استولی دی او د دغه وروستي کتاب په مټ یې خپلې وروستی لارښوونې د تل لپاره خوندي ساتلې دي چې بشر هر وخت ورته مراجعه وکړي اوخپل ژوند کې گټه ترې واخلي.

۲. الله تعالی په قرآن کریم کې پر کتاب قسم یادوي

د کتاب توری په قران کریم کې د نورو ډېرو تورو په پرتله ډېر ځلې یاد شوی، خو یو ځل پکې داسې هم راغلی، چې الله تعالی پرې قسم يعنې لوړه یاده کړې ده. الله د طور سورت په پیل کې وايي: ﴿وَالطُّورِ وَكِتَابٍ مَسْطُورٍ﴾ (الطور سورت، آيت،۱- ۲). الله تعالی چې په خپلو خبرو کې په کوم څیز قسم یا لوړه یاده کړې یقینا د نوموړي څېز په اهمیت او لوړ قیمت او ارزښت دلالت کوي، په یوه څیز د الله تعالی لوړه او قسم په دې خبره گواهي وايي چې هغه څیز د الله له لویو نعمتونو څخه گڼل کیږي، چې انسان ته یې پېرزو کړي دي. د کتاب توری که څه هم په دې آیت کې- لکه څنگه چې مفسرین وايي- د لوح محفوظ په معنا راغلی، خو له دغه مطلب څخه د قسم یا لوړې په مهال د کتاب په توري تعبیر خپل اهمیت لري، په څرگنده ښيي چې کتاب د الله تعالي په وړاندې د لوړ اهمیت لرونکی نعمت دی.

۳. کتاب د الله تعالی د وروستي پیغمبر معجزه ده

الله تعالی خپل وروستي پیغمبر ته کتاب د معجزې په توگه ډالی کړی دی. له تعالی وايي: ﴿وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ آيَاتٌ مِنْ رَبِّهِ قُلْ إِنَّمَا الْآيَاتُ عِنْدَ اللَّهِ وَإِنَّمَا أَنَا نَذِيرٌ مُبِينٌ (۵۰) أَوَلَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّا أَنْزَلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ يُتْلَى عَلَيْهِمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَى لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾ (العنکبوت سورت، آيت: ۵۱)، يعنې هغوی وايي ولې هغه[پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته] د خپل پالونکي رب له خوا معجزه نه ده را غلې، ورته ووایه: معجزې خو له الله تعالی سره دي، زه یوازې [ د الله تعالی له عذاب او نیوکو] څخه

ویروونکی یم، همدومره بسنه نه ورته کوي چې تاته مو کتاب را لیږلی؟ شپه او ورځ ورته لوستل کیږي، یقینا چې په دغه [کتاب]کې رحمت، د مؤمنانو لپاره پند دی. امام الألوسي د دغه آیت د تفسیر په اړه وايي: د غه کتاب چې دوی ته تل لوستل کیږي یوه تل پاته ثابته معجزه ده، هېڅ تغییر نه خوري، د نورو معجزو په څېر نه ده چې له ښکارېدو وروسته له منځه ولاړه شي(الألوسي، د. ت. ج ۱۱، ص ۷).

معجزه هغه مقدسه سپېڅلې ډالۍ ده چې الله تعالی وخت نا وخته خپل سپېڅلي استازي د دې لپاره پرې نازوي چې د اړتیا پر مهال یې د خپل نبوت د اثبات لپاره د خلکو د سترګو په وړاندې کېږدي او د نبووت د دعوا په برخه کې خپله ریښتینولي پرې ثابته کړي. دا چې الله تعالی خپل وروستي پیغمبر حضرت محمد -صلی الله علیه وسلم- ته کتاب دې معجزې په توګه ډالۍ کړی، د کتاب په شان شوکت او ارزښت تر ټولو ښه ګواه او شاهد دی.

۴. کتاب د معلوماتو خوندي زېرمه یا خزانه ده

ډېر معلومات داسې دي، چې یوازې د عقل او پوهې له لارې یې سړی درک کولی شي، محسوس جسم یا هډانه نه لري چې سړی دې یې له بل چا سره په فزیکي ډول شریک کړی شي، یا یې دې په راتلونکي کې د استفادې او ګټې اخیستنې لپاره له ځان سره خوندي وساتلی شي. د دا ډول معلوماتو د خوندي ساتل او له نورو سره د شریکولو لپاره کتاب د هغه کان یا معدن حیثیت لری، چې ګنجینې یا زېرمې او خزانې یې په خپله لمنه کې پټې پرتې او خوندي ساتلې وي، تر څو د اړتیا پر وخت را وایستل شي، ګټه ترې واخیستل شي. کتاب هم همداسې ډېر تاریخي، ټولنیز، فرهنګی یا کلتوري، سیاسي، اقتصادي، قانوني، فنی، ادبي او بالآخره ټول هغه معلومات په خپلو زرینو کرښو کې ځای په ځای کړي او ساتلي، چې د انساني ژوند د تاریخي پړاوونو په اوږدو کې یو پر پسې په مسلسله توګه رابرسېره شوي دي. دغه معلومت په حقیقت کې د بشري ژوند د پرمختګ او ودې اډانه او بنسټ جوړوي، د اوسني پېر د ژوند دا دومره هسکې دنګې ولاړې ودانۍ هرومرو د پخواني انسان د تجربو، افکارو، لاسته راوړنو په بنسټ جوړښت موندلی دی، هېڅکله هم ترې بېلېدی نه شي.

نو د دې لپاره چې انسان په خپل وخت او زمانه کې د ژوند په هکله سم فکر کړی وي، د خپل ژوند بنسټ او د هغه د ودې تاریخي مسیر یې په ښه توګه پېژندلی وي پکار ده نوموړي معلومات په واک کې ولري، چې وخت ناوخته یې وګوري، مطالعه یې کړي، له مخې یې خپل اوس مهال ژوند ته جهت او وده ورکړي، د پرمختګ په لور یې وخوځیږي. دا کار د کتاب په مټ ممکن دی، کتاب په خپلو پاڼو کې د تېرو امتونو کړه وړه، تجربې او لاسته راوړنې د همدې لپاره په خورا امانتدارۍ ساتلې، چې تر موږ یې را ورسوي او زموږ کړه وړه، تجربې او لاسته راوړنې بیا د پخوانو له کړو وړو سره مل تر راتلونکو نسلونو

پورې په خورا امانتدارۍ ورسوي، تر څو هر څوک په خپل وار او نوبت سره د انساني ژوند همدا قافله له خپل وس او توان سره سم د منزل مقصود لور ته سوق کړي، پر مخ یې بوزي او وده ورکړي.

۵. کتاب استاذ او ښوونکی دی

له دې خبرې هېڅوک هم انکار نه شي کولی، چې انسانان د کتاب په مټ ډېر څه زده کړي او لا لګیا دي زه کوي یې ، کتاب د زده کړې مهم عنصر دی، د اوسنې پېر د ښوونې روزنې له بنسټیزه اصولو څخه یو هم کتاب بلل کیږي. نو ویلای شو چې کتاب د استاذ په څېر یوه ډېره مهمه دنده تر سره کوي، خو د کتاب او استاذ تر مینځ د ښوونې په برخه کې دومره توپیر هرومرو تر سترګو کیږي چې د کتاب زده کړه نه تر کوم ځانګړي ځای یا زمان او وخت پورې تړاو لري، نه هم ترکوم ځانګړې ډلې او ټولنیز جوړښت پورې، نه ښوونځی، پوهنتون غواړي، نه هم ودانۍ او د لیکنې وسایل، بلکې د کتاب زده کړه هرځای هر وخت که په ودانۍ کې وي یا هم بیابان کې تر لاسه کیدی شي، نو له همدې امله ویلای شو، چې کتاب یو داسې استاذ، ښوونکی او لارښود دی چې نه ثابت ځای غواړي، نه هم ځانګړی وخت، نه ستړی کیږي او نه هم د نا آرامی احساس کوي.

۶. کتاب د ژوند ښه ملګری دی

کتاب د انسان د ژوند هغه ملګری دی چې هېڅ وخت هم نه ترې خوابدی کیږي، له سړي سره له آواز پرته خبرې اترې کوي، په خپلو ګټورو معلوماتو یې نازوي، بوخت یې ساتي، تل ورسره ملګري پالي، نه ترې دې مېلمه پالنې او خرڅې تمه او هیله لري او نه یې هم د وخت د ضیاع سبب ګرځي، په سفر او حضر کې ورسره یوځای ملګری وي، که سړی ونه غواړي کتاب هېڅکله هم نه ترې بېلیږي.

۷. کتاب د انساني تربیې یا روزنې تر ټولو ښه وسیله ده

دا چې کتاب یو لوستونکی د خپلې ګټورې منځپانګې په وسیله د ډېر وخت لپاره بوخت ساتي، نو له همدې امله انسان د کتاب لوستلو په مهال له ډېرو ذهني فکري او خیالي کړاوونو، آفتونو او ګناهونو څخه خوندي وي، د کتاب لوستل یې شخصیت جوړوي، لوړ منزلت ته یې رسوی، ترڅنګ یې په سړي کې تواضع، خاکساري او برده باري را پیداکوي، صبر او حوصله یې زیاتوي، د خپلو نورو نفساني غوښتونو سره د مقابلې په ډګر کې یې د مقاومت توان او ځواک زیاتوي، فکر ته یې وده ورکوي. په پورته یاد شوو ټکو سر بېره د کتاب لوستل د سړي حافظه ځواکمنوي، غمونه یې سپکوي، د ژوند له ستونزو یې فکر بلې خواته اړه وي، تسلي ورکوي.

## پایلې

د پورته يادې څېړنې په اوږدو کې لاندې پايلې تر لاسه شوې دي:

۱. ديني نصوصو ته په کتو کتاب د انساني ژوند يوه نه بېلېدونکې برخه ده، له حضرت أبو البشر آدم -عليه السلام- را نيولې بيا تر نن نېټې پورې بشر هېڅکله هم له کتاب پرته په نړۍ کې ژوند نه دی کړی؛

۲. د ژبنۍ ارزونې له مخې ښکاري چې د (کتاب) لفظ يا توری مصدر دی چې لومړی په عربي ژبه کې د يوه څيز له بل سره د يو ځای کولو په معنی کارول شوی، خو بيا وروسته د مجازي انځوريز صنعت له مخې د ليکلو، مکتوب، هغه څه چې ليکل پکې شوي وي، گنډلو، د رنگ مشواڼی، فرض ، حکم او تقدير، په څېر له ډېرو مفهومونو څخه د همدغه توري په مټ تعبير شوی دی.

۳. ديني نصوصو، همدارنگه عربي ادبي متونو ته په کتو د تاريخي مخينې له مخې کتاب د بشري ژوند په اوږدو کې په ډول ډول نومونو ياد شوی، کله د تورات په نامه ياد شوی، کله بيا د جِرجيس، زُبور، رِق، رقيم، سِفْر، صحيفې، قِطْ او مَجلې په نومونو سره نومول شوی دی؛ چې په عربي ادب کې د دغه مصطلح د لرغونتيا ژوروالی او عمق په گوته کوي.

۴. همدا ډول د ديني کره نصوصو تر څنگ د عربي ژبې د قاموسونو له تحليل څخه هم ښکاري چې کيدی شي په عربي ژبه کې کتاب لومړی د صحيفې په نامه ياد شوی وي؛

۵. کتاب د لاندې يو څو ټکو له امله په بشري ټولنه کې خورا لوړ منزلت او لوی ارزښت خپل کړی دی:

أ – خپلو پاڼو کې يې آسماني لارښوونې خوندي ساتلې دي؛

ب – الله تعالی د کائناتو خالق په کتاب قسم او سوگند ياد کړی؛

ج – الله تعالی کتاب د خپل ورستي پيغمبر معجزه گرځولې ده؛

د –کتاب د تجربو، لاسته راوړنو او معلوماتو خوندي زېرمه يا خزانه ده؛

هـ -کتاب د بشرې تېر ژوند تجربې لاسته راوړنې له نورو وروسته راغلو نسلونوسره شريکې کړې دي؛

و -کتاب استاد او ښوونکی دی؛

ز-کتاب د هر چا د ژوند تر ټولو ښه ملگری دی؛

ح –کتاب د زده کړې له ارزښتمنو لارو چارو څخه تر نورو ټولو ډېره ارزښتمنه لاره بلل کيږي؛

ط-کتاب د انساني تربيې يا روزنې تر ټول لويه، څرگنده او ښه وسيله ده؛

ي- کتاب د بشري ژوند په وده او پرمختګ کې ارزښتمن رول لوبولی دی؛

ک- د اوسنې معاصرې نړۍ انسان چې د پرمختګ کوم منزلت او ویاړ په واک کې لري هغه یې د کتاب په مټ لاسته راوړی دی.

**مأخذونه**

القرآن الكريم

ابن الأثير، م. (١٣٩٩هـ ١٩٧٩م). *النهاية فى غريب الحديث والأثر*، تحقيق: طاهر أحمد الزاوي، محمود محمد الطناجي. بيروت، لبنان: المكتبة العلمية.

ابن حبان، م. (١٤١٤ - ١٩٩٣). *صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان*. المحقق : شعيب، الأرنؤوط. لومړى چاپ ، بيروت: مؤسسة الرسالة .

ابن سيده، ع. (١۴١٧هـ ١٩٩۶م). *المخصص*، تحقيق: خليل ابراهيم جفال، لومړی چاپ، بيروت: دار احياء التراث.

ابن سيده. علي .(١٤٢١هـ - ٢٠٠٠م). المحكم والمحيط الأعظم. تحقيق: عبد الحميد هنداوي. لومړی چاپ. بيروت: دار الكتب العلمية.

ابن فارس، أ. (١٣٩٩هـ - ١٩٧٩م). *معجم مقاييس اللغة* ، المحقق : عبد السلام محمد هارون،چاپ: نه دی یاد شوی، بیروت، لبنان: دار الفكر.

ابن قتيبة، ع. (١٣٩٨ هـ - ١٩٧٨ م). *غريب القرآن*، تحقيق : أحمد صقر، دار الكتب العلمية ( لعلها مصورة عن الطبعة المصرية).

ابن كثير، إ.(١٤٠٨ هـ.١٩٨٨ م). *البداية والنهاية*، تحقيق: دكتور أبو الملحم، دكتور علي نجيب عطوي، فؤاد السيد، مهدي ناصر الدين، علي عبد الساتر، چاپ: څلورم، درالكتب العلمية، بيروت – لبنان.

ابن عاشور، م. (١٩٩٧). *التحرير والتنوير*، تونس: دار سحنون للنشر والتوزيع.

ابن منظور، م. (د - ت). *لسان العرب* ، چاپ: لومړی، ناشر : دار صادر – بيروت.

أبوحيان، م.(١۴٢٢هـ - ٢٠٠١م). *تفسير البحر المحيط*، دراسةوتحقيق: الشيخ عادل أحمد عبد الموجود، الشيخ على محمد معوض، بيروت- لبنان: دار الكتب ا لعلمية.

الأزهري، م.(٢٠٠١م). *تهذيب اللغة*، تحقيق: محمد عوض مرعب، لومړی چاپ، بيروت، لبنان: دار احياء التراث العربي.

الألوسی، م. (د- ت). *روح المعاني*، قراءة وتصحيح: محمد حسين العرب، باشراف هيئة البحوث والدراسات، بيروت – لبنان: دار الفكر.

البخاري، م. (١٤٠٧ - ١٩٨٧). *الجامع الصحيح* ، حسب ترقيم فتح الباري، چاپ: أول، القاهرة : دار الشعب.

الجوهري، إ. (١۴٠٧هـ – ١٩٨٧م). *الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية*، تحقيق: أحمد عبد الغفور عطار، چاپ: څلورم، بيروت: دار العلم للملايين.

الحاكم، م.(١٤١١ - ١٩٩٠). *المستدرك على الصحيحين*، تحقيق : مصطفى عبد القادر عطا. چاپ: اول، بيروت – لبنان: دارالكتب العلمية.

الخازن ع.(١٤١٥ هـ). *لباب التأويل في معاني التنزيل* ، تحقيق : تصحيح محمد على شاهين، بيروت: دار الكتب العلمية.

الدارمي، ع. (١٤٠٧) . *سنن الدارمي*، تحقيق : فواز أحمد زمرلي، خالد السبع العلمي، الطبعة: الأولى، بيروت: دار الكتاب العربي.

الرازي، م، (۱۴۲۵هـ ۲۰۰۴م). *مفاتيح الغيب*، الطبعة: الثانية، بيروت –لبنان: دار الكتب العلمية.

الزَّبيدي، م.(د-ت). *تاج العروس من جواهر القاموس*، تحقيق: مجموعة من المحققين، دار الهداية.

الزركلي، م. (مايو ۲۰۰۲ م). *الأعلام*، چاپ: ۱۵، بيروت: دار العلم للملايين.

الزمخشري، م. (۱۴۱۳ق). *الكشاف عن حقائق غوامض التنزيل وعيون الآقاويل فی وجوه التنزيل*، لومړی چاپ، دچاپ ځای: منشورات البلاغة.

السمين، أ. (د. ت.). *الدر المصون في علوم الكتاب المكنون*، تحقيق: الدكتور أحمد ممد الخراط، دمشق: دار القلم.

الطبري، م. (١٤٢٠ هـ - ٢٠٠٠ م). *جامع البيان فی تأويل القرآن*، المحقق: أحمد محمد شاكر، الطبعة: الأولى، مؤسسة الرسالة.

الفراء، ی.(د. ت.). معانی القرآن. تحقيق، يوسف نجاتي او نور. مصر: دار المصرية للتأليف والترجمة.

الفراهيدي، خ.(د- ت). *العين*، تحقيق : د.مهدي المخزومي ود.إبراهيم السامرائي، دار ومكتبة الهلال.

الفيروز آبادي، م. (۱۴۰۷هـ) *البلغة فی تراجم أئمة النحاة واللغة*، تحقيق: محمد المصري، لومړی چاپ، الكويت: جمعية احياء التراث الاسلامي.

الكندي، ا.(١٤٢٥هـ ٢٠٠٤م). *ديوان امرئ القيس*، تحقيق: عبد الرحمن المصطاوي، دويم چاپ، بيروت: دار المعرفة.

المحلي، م، والسيوطي، عب، (د. ت.). *تفسير الجلالين*، لومړی چاپ، القاهرة: دار الحديث.

مصطفى، إ، والزيات، أ. او نور(د-ت)، *المعجم الوسيط*. تحقيق: مجمع اللغة العربية، دار الدعوة.

النسفي، ع. (د- ت). *مدارك التنزيل وحقائق التأويل*، بعناية عبد المجيد طعمة حلبي، المكتبة الحقانية ، محله جنگي بيشاور باكستان.